مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي الله ملکزی
۱۶ / ۰۸ / ۲۰۲۶

# د سیاست خدایګوټي او سپېڅلي اروا وې

د سیاسي علومو، حکومتي جوړښتونو او ټولنپوهنې په ډګر کې د دین او سیاست متقابله اړیکه د پام وړ پېچلي او د دیني مطالعاتو له خورا مهمو بحثونو څخه ګڼل کېږي. د واکمنیو تاریخي څېړنه ښیي چې سیاسي واک یوازې د فزیکي ځواک او قوانینو له لارې نه دی ټینګ شوی، بلکې زیاتره وخت د مذهبي مشروعیت، سپېڅلو روایتونو او اسطورو په توسل توجیه شوی دی. که څه هم زما پورتنی عنوان ممکن د معیاري ټرمینالوژۍ کلاسیکه اصطلاح نه وي، ولې د یوې تحلیلي طرحې په توګه هغه حالت څه ناڅه روښانه کوي چې په اقتدار کې د مذهبي تقدس او سپېڅلو ارزښتونو مشروعیت څومره ژوري رېښې لري؟
د الهي پېرزوني تیوري څرګندوي چې په بېلابېلو تاریخي پړاوونو کې ګڼو واکمنانو هڅه کړې خپل سیاسي شخصیت او قلمرو له ماوراء الطبیعه او سپېڅلو اروا وو سره وتړي. په لرغونو تمدنونو کې د واکمنیو اډانه تر ډېره پر همدې عقیدې ولاړه وه. په مصر کې فرعون د خپلو وګړو لپاره د الهي هستۍ تعبیر او مجسمه ګڼل کېده، بلکې ځان یې د آسمان د استازیتوب پر ځای ﴿أَنَا رَبُّكُمُ الْأَعْلَىٰ - زه ستاسو ستر رب یم﴾ بللو. په بین النهرین کې پاچاهانو خپل واک نېغ په نېغه د خدایانو له ارادې څخه اخیستل شوی ګڼلو. د منځنیو پېړیو په ترڅ کې اروپایانو د پاچاهانو الهي حق ( Divine Right of Kings) نظریه او د سلطنت مشروعیت یې له کاتولیکي مراجعو او غیبي واکمنی سره ګینده کړی وو.
په دې توګه، مذهبي سمبولونه او عقیدتي چوکاټونه د سیاسي اقتدار د نفوذ، استمرار او ټولنیز نظم د ټینګښت عمده وسایل وو. په ورته بڼې، په پارس، چین، جاپان، هند او لېرې آسیا کې د زیاترو سلطنتي تمدنونو د تقدس په وړاندې هېڅ ډول ګواښ شتون نه درلود. مذهبي واکمنې او اقتدار هغه نظام ته ویل کېږي چې د دولت مشروعیت تر ډېره د دیني بنسټونو له لارې توجیه او مخالفین یې باغیان بلل کېږي. همدا نن د پرمختللې اروپا د ګڼ شمېر هیوادونو د ملي بیرغونو په منځ کې صلیب ځلېږي او حکومتي مشران یې د لوړې په مهال په انجیل باندې لاسونه ږدي.
د اسلامي تاریخ په پاڼو کې لولو چې د سیاسي او اداري واک د لېږد ډولونه جلا جلا دي. که څه هم د خلفای راشدینو د ټاکل کېدو چوکاټ د اهل الحل والعقد او ولسي بیعت له لارې وو، خو وروسته په اسلامي هیوادونو کې د واک انتقال په کورنیو کې انحصار شو. معاویه (رض) خپل زوی، یزید ولی العهد و ټاکه او له خلکو یې غوښتنه وکړه چې بیعت ورسره وکړي. د امویانو خلافت (۹۱ کاله) د عباسیانو خلافت (۵۲۴ کاله) او د عثمانیانو سلطنت (۶۲۴ کاله) د وینې او نسب له برکته خپله واکمني غځېدلې وساتله. دغو خلفاوو او سلاطینو به خپلو اولادونو او ورونو ته په ژوند یا وصیت سره واک ورسپارلو. البته په همدې موروثي تشکیلاتو کې د ځینو ککرۍ رېبل شویدي، له چا سترګې ویستل شویدي، تبعید او شړل خو یوه عادي او معمولي خبره وه.
که له پاسنیو تاریخي بېلګو واوړو وانخلو؛ په نننۍ عصر کې ګورو چې سیاسي واک د دیکتاتورۍ په قالب کې هم تقدس لري. د شمالي کوریا په دولتي تبلیغاتو کې د (کیم) کورنۍ او په ځانګړې توګه د برحاله ځوان مشر داسې سپېڅلی انځور وړاندې کېږي چې هغه یو بې بدیله زېږه سواندي کرکټر دی. له (کیم جونګ اون) سره د طبیعي پېښو معنا داره تړل چې ګواکې زلزلې، طوفانونه او ناورینونه د ستر رهبر د عالي ارادې له وجې د کوریا ملت ته زیان نه شي رسولای!؟
له بل پلوه، د ولسواکو او جمهوري نظامونو تهداب د کورنۍ وراثت پرځای په ټاکلې دورې، قانونمند چوکاټ او د کاندیدانو ترمنځ په متوازنې سیالۍ ولاړ وي. د نړۍ په ځینو جمهوریتونو کې نامتو سیاسي کورنۍ لکه د بوش کورنۍ په امریکا کې یا د ګاندي کورنۍ په هند کې سر پورته کوي، خو د هغوئ مشروعیت له ولسي فلټرونو څخه تېرېږي، نه د ارثي تسلسل له امله. دا هم سمه ده چې په ډېرو ځواکمنو هیوادونو کې په درغلیو او جنایي دوسیو ککړ اشخاص پارلمان ته ځي او واک ترلاسه کوي؛ خو د جمهوري نظامونو ارزښت بیا په دې کې دی چې ولس د رنو ټاکنو د میکانیزم له لارې، همدغه سیاسي ګنګیان محاسبه او له صحنې څخه بېرته ګوښه کولای شي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

د یوې پایلې په توګه ویلای شو هغه هیوادونه او سیاسي نظامونه چې مشروعیت یې د قانون پر حاکمیت ولاړ وي، د باثباته راتلونکې، سازماني همپالنې او عامه باور لپاره ښېخې مناسب وي او دوام کوی. برعکس، کله چې سیاسي واک د یوې مشخصې کړی، یو مشخص فرد یا د مذهبي او اسطوري روایتونو تر چتر لاندې متمرکز شي، نو ولسي ګډون او د حساب ورکونې هڅې اغېزمنېږي او نظامونه د استبداد ښکار ګرځي. زه نه پوهېږم چې دا خبره به د چا وي؟ خو یو خروار وزن په کې پروت دی. «له ښه استبداد څخه، بده ډیموکراسي غوره ده».

الله مې دې زاړه ایمان ته خبر کړي!

---------------------------—

پاملرنه: که لوستونکي وخت او علاقه لري، کولای شي د ملکزي نوري لیکنې او څېړنې د هغه په فیسبوک او یوټیوب چینل کې ولولي او وګوري. ادرس یې دا دی: Wali Malakzay



د لیکوال نوري لیکنې په دې لینک کې ولولئ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ